# الناس

**مکی سورة دی ۶ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١

**( ای پیغمبره!) ووایه: پناه وړم د خلکو د رب حضور ته( چې زمونږ د ژوند د ټولو چارو اداره، تنظیم او اصلاح یې په واک کې ده).**

مَلِكِ ٱلنَّاسِ ٢

**د خلکو د حقیقی واکمن او بادشاه (حضورته چې واک او سلطنت یې په ټولو کائناتو لایتناهی او بې سیاله، بې رقیبه دی).**

إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ٣

**د خلکو د حقیقی معبود ( حضور ته چې هیڅوک ورسره شریک نشته).**

مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤

**د هغه پټ تلونکی راتلونکی وسوسه اچوونکی( شیطان) له شر څخه.**

ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ ٥

**چې د خلکو په زړونو کې وسوسې اچوی( او د الله تعالی له ذکر څخه یې غافل او بې لارې کوی).**

مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ٦

**( که دغه وسوسه اچوونکی) له پیریانو څخه دی، که له انسانانو څخه.**

**« تمت سورة الناس بفضل الله و رحمته»**

**====================**